# په برټش لائبرېرۍ لندن او جان رائ لېنډ لائبرېرۍ مانچسټر کښې د رحمان بابا د قلمي نسخو پېژندنه

# An Introduction of Different Manuscripts of Rahman Baba in the British Library, London and The John Rylands Library, Manchester, United Kingdom

Muhammad Aftab*

**Abstract:**

Different Manuscripts of Sufi poet Abdur Rahman are found in British Library London and The John Rylands Library Manchester United Kingdom. These Pashto Manuscripts were first time recorded in British Museum Catalogue on 1893 by James Fuller Blumhardt in the "Hindi, Panjabi, Sindhi and Pushtu Printed Books, in the Library of the British Museum by J.F Blumhardt, Teacher of Bengali at the University of Oxford, and of Hindustani, Hindi and Bengali for the Imperial Institute, London"[1]. Blumhardt's subsequent mentions of these manuscripts in other catalogues of 1902 & 1905[2]. In this article I attempts to introduce these all Diwan-i-Rahman manuscripts for the first time. Introducing these Diwan-i-Rahman manuscripts to the wider scholarly community opens up avenues for research and comparative studies. By analyzing these texts, researchers can gain insight into Abdur Rahman's poetry, Sufi thought, and the cultural context in which he lived and wrote. Furthermore, comparing different versions of the manuscripts across libraries can shed light on variations in content, language, and interpretation. **British Library, London** and **the John Rylands Library, Manchester** both play vital roles in preserving and promoting Pashto literature and cultural heritage through their collections of Pashto manuscripts, including the esteemed Diwan-i-Rahman.

**Keywords:** Pashto Manuscripts, Diwan-i-Rahman in the British Library London and the John Rylands Library Manchester, UK.

د برطانيې او مانچسټر په لائبرېرو کښې د ديوان رحمان بابا قلمي نسخو شتون يوه ډېره لويه خبره او څرګندونه ده چې فېرنګيانو او مستشرقينو که په پښتنو هر څومره ظلمونه کړي دي خو ددې قام علمي اثار او علمي پوهې ته ئې د قدر په نظر کتلي دي . هغوي د

* PhD Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar, Pakistan.

پښتون قام سره سره د هندوستان د نورو ژبو قلمي نسخې ، اثار ، خطوط او ددغې سره تړلي بلها نوادرات خپلو لائبرېريو او ميوزيمونو ته رسولي دي چې نن ترې پښتانهٔ وخت په وخت د خپل کار او څېړنې مطابق ګټه ترلاسه کوي ـ رحمان بابا هم د مختلفو مستشرقينو ډېر خوښ شاعر وهٔ ـ دغو مستشرقينو کښې مېجر راورټي، پادري هيوز او کرنل جارج ډبليو هميلټن سره سره نورو هم د رحمان بابا قلمي اثار ترلاسه کړي او محفوظ کړي ئې دي ـ هم دغه لټون وهٔ چې مشهور مستشرق بلومهارټ په وړومبي ځل د هندوستان د مختلفو ژبو يو فهرست په کال 1886ء[3] ، 1889[4]ء کښې چاپ کړو ـ چې د هندوستان د قلمي نسخو يا مخطوطاتو اندازه ترې لګي خو بلومهارټ په خصوصي توګه په کال 1893ء[5] کښې د هندي، پنجابي ، سندهي او پښتو ژبو کټلاګ چاپ کړو ـ دغه کټلاګ د برټش ميوزيم لندن دپاره وهٔ ـ هم په دغه فهرستونو کښې د رحمان بابا ديوان چې په مختلف دورونو کښې مختلف کاتبانو ليکلي وو په لاس راځي ـ هم دغه وجه وه چې مونږ د ديوان رحمان انتخاب اوکړو او د هغې لټون مو شروع کړو او د لاتدينو ذکر شوؤ فېرنګيانو په دغه لړ کښې غټه برخه ده چې هغوي د را روان وخت دپاره دا نسخې يعني مخطوطات محفوظ کړل ـ

**رچرډ جانسن ۱۷۵۳ ـــ ۱۸۰۷** : ايسټ انډيا کښې د بنګال په مقام باندې يو منصف مقرر کړو چې نوم ئې رچرډ جانسن وهٔ ـ دے په کال ۱۷۷۰ کښې ددغو خدماتو په لړ کښې کلکته ته راورسېدو ـ هغه په کال ۱۷۸۰ تر ۱۷۸۲ء په منځومانه په لکهنو کښې ناتهانشيل مډکټېن اسسټېنټ مقرر شو ـ ددهٔ ددغې کار نوعيت نه هغه ډېر مطمئن نهٔ وهٔ خو دے بيا هم د څو دانشورانو سره په ډيوټۍ وهٔ نو ډېر څهٔ ئې ترې زده کړل ـ لکه وليم جونز ، ايلياء رچي، او اميټهون پوليئر دې سره سره ددهٔ د هندوستان فنکارانو او شاعرانو سره هم روابط وو ـ چې د هغوي نه ئې ډېر کار په بيعه اخستے وهٔ ـ جانسن د ديوان حفيظ وړومبۍ مطبوعه ايډيشن په کال ۱۷۹۱ء کښې ايجوئن کلکته پرېس نه شائع کړو ـ رچرډ جانسن د خپل خدماتو له کبله د مغل بادشاه شاه عالم هم ډېر خوښ وهٔ چې په هغه وخت کښې ورته القابات او انعامات هم ورکړل ـ او په دې لقب سره ئې وستائلو لکه :

" ممتاز الدوله مفخر الملک و حسام جنګ رچرډ جانسن "

د لیلیٰ مجنون تصویري قصه ، د میرک او بهزاد څو قیمتي تصویران هم رچرډ جانسن د شاهي لائبرېري نه په ایسټ انډیا کمپنۍ باندې خرڅ کړي وو چې بیا په کال ۱۹۰۸ء کښې پوره سل کاله پس برټش میوزیم د یو ډیلر نه په بیعه واخستهٔ.
وئیلے شي چې ایسټ انډیا کمپني په ډېر کم قیمت د رچرډ جانسن نه په کال ۱۸۰۷ء کښې د تصویرانو ۲۴ البمونه او څهٔ دپاسه ۱۰۰۰ قلمي نسخې په بیعه اخستي دي چې په هغې کښې د فارسۍ ، عربۍ ، ترکي ، اردو ، سنسکرت ، بنګالۍ ، پنجابۍ، هندۍ او اسامي وغېره ژبې نسخې شاملې وې ـ چې هم دغه د رچرډ کلیکشن نن صبا د برټش / انډیا افس لائبرېري د ملا هډوکي دي ـ
د رحمان بابا د کال ۱۷۷۳ دیوان هم د رچرډ جاسن د لاس اوړل شوے دیوان دے چې ډاکټر میکنزي د کال ۱۹۲۵ء کیټلاګ کښې د رچرډ جانسن په لاس اوړلے شوے دیوان لیکلے دے ـ
**مېجر راورټي** :- دے یو فوجي افسر وهٔ چې د هندوستان په زمکه ئې په کلکته، اګره، بمبۍ، جالندهر او پېښور کښې خدمات او ملازمت کړے دے. مېجر راورټي د پښتو د قندهاري او یوسفزۍ لهجو په فرق ډېر ښه پوهېدو. دا په دې چې هغه چا چې د دهٔ سره په دې علمي کاوشونو کښې لاس کړے دے په هغوي کښې یو تن دا شنغر او سېدونکے یو اخون زاده وهٔ او بل د قندهار د یو قاضي زوے وهٔ[6].
راورټي په وړمبي ځل د پښتو ټائپ وضع کړو او یوه ځان له فاؤنډري ئې ورته په هارټ فورډ کښې جوړه کړې وه. ددې ټائپ حرفونه دومره واضح او ښائسته وو چې لا تردې بل یو د ټائپ د پاره وضع کړي شوي حروف ددې مقابله په نسخ ټائپ کښې نه شي کولے. وائي چې راورټي خپل د پښتو دا ټائپ د داؤ د خان برېخ د نسۍ ګوهر رقم بي بي په پښتو نسخ باندې جوړ کړے وهٔ[7].
**پادري هیوز**:- ددې مستشرق پوره نوم پادري تهامس پیټرك هیوز Thomas Patrick Hughes وو. پادري هیوز په پښتو ادبیاتو ډېر مئین وهٔ. دهٔ ډېر قلمي دیوانونه او کتابونه راجمع کړي وو او چې کوم کتاب ئې حاصلولے نه شو د هغې خوشخط نقل به ئې حاصل کړو او د ځان سره به ئې سنبال کړو او دغه رنګ دې محقق د پښتو ژبې ډېر نادر کتابونه خپل وطن ته د ځان سره وړي او هلته په برټش میوزیم کښې ئې محفوظ کړي دي[8].

**کرنل هیملټن**:- کرنل هیلمټن په کال ۱۸۷۰ء نه تر ۱۸۲۸ء پورې ژوندے کړے دے. هغه خپله ډیوټۍ په مختلفو څوکو باندې ۱۸۲۳ء نه تر ۱۸۲۷ء پورې ترسره کړې ده. چې په اخره کښې د دهلي کمشنر هم پاتې شوے دے. هغه د هندوستان نه تقریباً څۀ دوه زره پورې نسخې انګلېنډ ته اوړې دي چې په کښې زیاتې د فارسۍ او عربۍ نسخې دي. چې په دې نسخو کښې ۳۵۲ برټش میوزیم ته حواله شوې چې تقریباً شپاړس نسخې د پښتو ددۀ ښځې د مانچسټر جان رائیلینډ ته حواله کړې دي او څۀ ئې خرڅې کړې دي.

**بلومهارټ**:- بلوم هارټ هغه یورپي مستشرق دے چې د پښتو قلمي نسخو یو فهرست ئې په کال ۱۸۹۳ء کښې په لاندنۍ بڼه تیار او چاپ کړو. چې ټولې ۴۲۰ صفحې لري. د پښتو قلمي نسخو فهرست په ۵۴ صفحو مشتمل دے[9].

**CATALOGUE OF THE MARATHI, GUJARATI, BENGALI, ASSAMESE, ORIYA PASHTO AND SINDHI.**

Manuscripts in the Library of the British Museum

By J.F.Blumhardt, M.A

Printed by order of the Trustees London.

Sold at the British Museum 1893.[10]

په لندن کښې په برټش میوزیم کښې د موجوده کتابونو په دې فهرست کښې د نورو ژبو نه علاوه د پښتو قلمي نسخو فهرست تیار کړے دے. دې نه علاوه ئې په نولسمه صدۍ عیسوي کښې په برټش میوزیم کښې موجود فهرست هم تیار کړے دے. دا فهرست چې په کتابي شکل کښې او په کال 1905ء کښې چاپ دے، داسې نوم لري.

**"Catalogue of Marathi, Gujarati, Bengali, Pashto and Sindhi Manuscript in the Library of British Museum[11]."**

د پښتو ژبې قلمي نوادرات په نامه د بلوم هارټ دغه فهرست کښې د پښتو ژبې د نورو قلمي او چاپي کتابونو اضافه ډاکټر مېکنزي کړې ده او د برټش میوزیم او دولت مشترکه د تعلقاتو د مرکز له خوا ئې په کال 1965ء کښې دوباره شایع کړے دے. دا دویم فهرست 147 مخونه لري. دا د څېړنې په لړکښې یو اهم دستاویز دے. د تحقیق خاوندانو ته اسانۍ پېدا کوي[12].

د انګریز مستشرق بلوم هارټ دا یو اهمه کارنامه ده. ځکه ئې دلته ذکر اوکړے شو.

**میکنزي**:- دۀ د لنډن سکول آف اورینټل اینډ افریکن سټډیز سره تعلق لرلو. د مرکزي ایشیا د ژبو عالم وۀ. دۀ د خوشحال خان خټک ځینې منتخب نظمونه د یونیسکو په مالي

امداد ترجمه او شائع کړي دي. دا منظومه ترجمه ډېره خوندناکه او روانه ده. دهٔ د برټش میوزیم د ټرسټ او د دولت مشترکه د تعلقاتو د دفتر په مالي تعاون په برطانوي کتب خانو کښې د پښتو د قلمي کتابونو یو فهرست ښخي په نوي طرز مرتب کړو. په دې فهرست کښې د بوډلین، برټش میوزیم، کیمبریج یونیورسټۍ، انډیا آفس، د جان رینلډ، د سکول آف اورینټل اینډ افریکن سټډیز او د ټرینټي کالج ډبلن د کتب خانو په قلمي ذخایرو کښې د پښتو د قلمي کتابونو تفصیلات ښائیلي شوي دي او دغه کتابونه چې د چا په ذریعه دې کتب خانوته رسېدلي دي د هغوي ذکر ئې هم په دې کتاب کښې کړے دے. دا کتاب په ۱۹۲۵ء کښې په انګلستان کښې چاپ شوے دے[13].

**ډارمسټېټر:** -د نولسمې صدۍ یونو موړے یهودي النسل مستشرق د فرانس پروفېسر جیمز ډار مستیټر وۀ. دے په کالج ډي فرانس کښې د مشرقي علومو استاذ وۀ او په ۱۸۸۲ء کښې په یو خصوصي مشن برصغیر ته راغلے وۀ. د دهٔ د مشن مدعا د پښتو ژبې کلیوالي سندرې راجمع کول او د اولسي ادب مطالعه کول وو. دغه سندرې او ادبي نمونې دهٔ سره د فرانسیسي ترجمې په خپل مشهور کتاب (Chants Popularities Afghans) د پښتونخوا د شعرهارو بهار کښې شائع کړے. په دې مجموعه کښې د پښتو عوامي غزل، بدلې، چاربېتې، متلونه، مصرعې، اللهواو اسم ذات وغېره راجمع کړے شوي دي[14].

1. **دیوان رحمان** :- (دیوان پشتو رحمان خان افغان)

دا دیوان د برټش لائبرېرۍ په کتلاګ نمبر IO Islamic 2765 [15] Oriental manuscripts British Library, London نمبر پروت دے .دا دیوان د بلومهارټ په کتلاګ کښې صفحه نمبر5، 16163 د کال 1893 ، کال 1902 او کال 1905 کښې هډو څهٔ ذکر نشته خو ددغه دیوان پته په Online کتلاګ کوم چې د مانچسټر یونیورسټۍ په مرسته تیار شوے دے .او پبلش کړے په هغې کښې په نظر راځي .دا دیوان نهٔ د ډاکټر میکنزي په کتلاګ کښې نشته او نهٔ د بلومهارټ په کتلاګ کښې .خو آن لائن کتلاګ کښې ئې ذکر شته او په انډیا افس ، برټش لائبرېرۍ کښې محفوظ دے چې نهٔ پرې د کاتب نامه او نهٔ پته شته. په اخر کښې په کښې د څو اسلامي کتابونو ذکر هم دے یعني د فقه ، کیمیائې سادات ، تذکرة الاولیاء ، ملفوظات شیخ معین الدین ، شریعت الاسلام او اخلاق محسن وغېره ذکر

شوي دي ـ کاغذ ئې زوړ هندوستانے ښکاري چې ناقصه ښکاري ليکل ئې هم ښۀ ښکلي او برابر ښکاري ـ

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman IO Islamic 2765





2. **ديوان عبدالرحمان :-**

دا ديوان په آن لائن فهرست[16] IO Islamic 2951 Islamic Oriental manuscripts British Library, London په نمبر ذکر شوے دے ـ ددې ديوان ذکر ډاکټر مکنزي هم په خپل فهرست کښې په کال 1965ء کښې په صفحه نمبر 91 ذکر کړے دے ـ ددې ديوان

کاغذ هم هندوستانے دے چې د مغلیه دور ښکاري ـ کتابت او املاء ئې ښۀ خوشخط شوې ده ـ کاتب خپل نوم او پته څۀ داسې لیکي

"دیوان د رحمان سرېني سن ۱۱۸۷هـ کاتب فاضل محمد ولد ملا عبدالغني عرف افغان کاسي ام کنیز ساکن بلدهٔ ئې دارالامان ملتان"۔

دا دیوان الفبائي پټهی سره دے ـ د دیوان په وړومبي مخ د حسنېنو مرثیه لیکلې شوې ده چې دا رنګ شروع کېږي "مرثیه در زبان پښتو بنام نواب منعمد الدوله" په هره پاڼه ئې تقریباً یوولس اشعار لیکلي شوي دي ـ لاندې ذکر شوې نسخه د مستشرق رچرډ جانسن چې په سپین مغل باندې مشهور وۀ ـ د مغل بادشاه شاه عالم په دور کښې اوړلې شوې ده ـ

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman IO Islamic 2951



3. **دیوان رحمان :-**

دا دیوان په آن لاین کتلاګ کښې[17] IO Islamic 3236 Islamic Oriental manuscripts British Library, London باندې ذکر دے ـ د ډاکټر مکنزي کتلاګ کښې صفحه نمبر 87 ، نمبر 75 او بلومهارټ په کتلاګو کښې ئې ذکر راغي دا دیوان په ډېر اعلیٰ

او نفیس کاغذ لیکلې شوې دے. کاغذ ئې نرے ، نازک ، هموار او ملائم دے چې لیک پرې هسې ښکلې ښکاري. دا دیوان دوه دفترونه لري. املاء ئې هم ښۀ پوره او ښکلې لیکلې شوې ده. چې په اخر کښې کاتب خپل ځان څۀ دا رنګ معارفي کوي.

"بدست خط میا صدرالدین درماه رمضان مبارک تم تمام شد ۱۲۷۰"

ددې شعرونه هم یوولس دي. د دیوان وړومبي مخ باندې د راوتې لیکل شوي دي چې په کال 1856 کښې پرې شوي دي او دا ئې پرې هم لیکلي چې دا نسخه ایمپرئیل ایګزبیوشن پرېس ته د لاهور نه اوړلې شوې وه. د دیوان شروعات چې په کوم مخ شوې دے هغه باندې ډېر ښکلے زرورک کار شوې دے یعنې حاشیې ئې ډېرې قیمتي او ښکلې دي چې په وړومبي ځل د رحمان بابا په دیوان داسې نقش و نګاري ښکاري چې د مغلیه طرز لیکلو عکاسي کوي.

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman IO Islamic 3236






4. **ديوان عبدالرحمان بزبان پښتو** :- Or 393 Oriental manuscripts British Library, London[18]

دا نسخه په دغه برني نمبر په آن کتلاگ کښې ذکر شوې ده .دې نه علاوه د بلومهارټ په کال 1905 په کټلاگ کښې په صفحه نمبر 18 ، 19 باندې ذکر ده .دا نسخه ښۀ زړه ښکاري .د کتابت کال او ځاے نۀ دے معلوم خو البته کاتب په اخر کښې په دې نسخې ځۀ داسې ليکلي "تمت تمام شد ديوان عبدالرحمان، خط خام سيد غلام علي ساکن سون بت/ روه بت ." دا نسخه دوه دفترونه لري .او پوره دوه سوه او اتۀ شپېته مخونه لري .او په هر مخ ئې څوارلس کرښې ليکل شوي دي .

د کاتب پته څۀ ډېره صفا نۀ ښکاري ځکه چې سون پت يا روه پت هندوستان کښې يو علاقه کېدے شي .د ميکنزي د 1965 کټلاگ مطابق هغه روه پت ليکلي دي او د بلومهارټ د 1905 کټلاگ مطابق هغه سون پت ليکلي دي خو سوني پت په شمالي هندوستان کښې د رياست هريانه يو ضلع شته لکه د پاني پت چې په دې صوبه کښې راځي .او د روه پت څۀ درک نۀ لګي .دا نسخه د کرنل هيملټن د ښځې نه برټش ميوزيم والو په 1868 کښې په بيعه اخستې ده چې ليکل پرې په انګريزي کښې څۀ دا رنګ ليکل شوي دي . Purchased of The Widow of George William Hamilton, April 1868

هيملټن په هندوستان کښې د کال1823 ـــ 1867 پورې په مختلف څوکو پاتې شوے دے چې ورستو د دهلي کمشنر شو .هغه څۀ دپاسه دوه زره د عربۍ ، فارسۍ او پښتو وغېره نسخې برطانيه ته اوړلې دي . چې روستو 352 برټش ميوزيم دپاره خوښې کړلې شوې باقي پاتې نسخې په کال 1868ء کښې د کرافورډ پنځه ويشتم ارل اليګزينډر لنډسي په بيعه واخستې .

دا نسخه وېنو خوړلې ده . کاغذ ئې ضعيف دے او املاء ئې سخته ده .

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman Or 393




5. **دیوان عبدالرحمان** : – Or 2829 Oriental manuscripts British Library, London[19]

دا دیوان د پادري هیوز په وېنا میرزو اسماعیل لیکلے دے .ددې دیوان کاغذ انګرېزي دے ډېر اعلٰی کاغذ ئې دے چې د کاغذ د کمپنۍ نوم پکښې نمایان دے دا کاغذ دا رنګې دے. Water Mark "Moiniers, 1859 and Williams Kent, 1859"

ددې دیوان املا هم ډېره اعلٰی ده .او په دوه دفترو کښې دا دیوان لیکلے شوے دے . کاتب په اخر کښې خپل ځان څۀ داسې معروفي کړے دے .

" تمت تمام شد کتاب مستطاب دیوان عبدالرحمان بزبان افغان بدست حقیر میرزو اسماعیل، هشتم ماه ذلحجه ۱۲۷۷ مطابق هفدهم جون ۱۸۶۱"

دا دیوان د ډاکټر میکنزي کټلاګ کښې 88 نمبر باندې دے او بلومهارټ په کټلاګ کښې هم په صفحه 19 ، نمبر 28 باندې ذکر شوے دے .د دیوان په اخره کښې لیکلي شوي

دي چې په 17 جون 1885 کښې پادري هیوز برټش میوزیم ته حواله کړے د ے . په هره پاڼه ئې دیارلس شعرونه دي . خط نسخي کښې لیکل شوي دي او هره پاڼه ئې نمبرواره ده .

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman Or 2829



6. **دیوان عبدالرحمان** : –[20] Or 2830 Oriental manuscripts British Library, London

د ډاکټر مکنزي د 1965 کټلاګ کښې دا دیوان په 89 نمبر د ے . د برټش میوزیم نمبر 2830 او Foll 139 د ے . دا دیوان د پېښور مشهور خطاط/ کاتب غلام جېلاني په ډېر خوشخطۍ سره لیکلے د ے چې تصحیح کړي او په رسم الخط مولوي احمد د تنګي د پادري هیوز دپاره برابر کړي دي . د دیوان په اخر کښې کاتب څۀ دا رنګ لیکي .

"تمام شد په تاریخ د څلورم د ماه مي ۱۸۷۳ عیسوي به دستخط حقیر غلام جېلاني پشاوري"

کاغذ ئې انګرېزي ، صفا د ے . په هره پاڼه پنځلس شعرونه لیکل شوي دي . املا ئې ډېره زیاته ښکلې او نفیسه ده . لیکل ئې داسې لګي چې دا دیوان په کمپیوټر چهاپ شو ے وي . په دوو دفترونو مشتمل د ے . چې په سرنامه ئې د پادري هیوز لیکل شوي دي چې د

رحمان بابا تعارفي الفاظ دي. په هره پاڼه ئې پنځلس کرښې شعرونه ليکل شوي دي. پوره دوه سوه اتيا مخونه لري.

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman Or 2830






7. **ديوان رحمان مهمند:** – Or 2874 Oriental manuscripts British Library, London [21]

دا نسخه صرف په آن لاين کتلاګ کښې ذکر ده چې نمبر ئې 2874 دے ـ چې په برټش ميوزيم کښې پرته ده ـ خط ئې شکسته دے ـ املا ئې ډېره صفا او واضحه نۀ ده خو لوستلے شي ـ کاغذ ئې هم ناقصه دے ـ خو کاتېي ئې مضبوطه شوې ده ـ کاتب د خپل ځان ځرګندونه څۀ دا رنګ کوي ـ ''ديوان رحمان مهمند ، کاتب بدست فقير محمد ولد طرح باز خان مرحوم ، بتاريخ ۱۷ شوال ۱۲۷۱ھ يوم شنبه وخت چاشت درچونه تخت پل''

د ديوان نمونه په دې تصويرانو کښې اوګورئ ـ

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman Or 2874





8. **ديوان عبدالرحمان** : – [22] Or 4493 Oriental manuscripts British Library, London

دا ديوان آن لائن کټلاګ د مانچسټر يونيورسټۍ Or 4493 باندې دے. د مکنزي 92 نمبر Foll 111 دے. ديوان په لويه صفحه ليکل شوے دے. چې په هره صفحه ئې 18 شعرونه دي. کاغذ ئې صفا انګرېزي دے. ليکل ئې هم ښکلي دي. د لوستو قابله ده. دا ديوان برټش ميوزيم ته مېجر راورټي په کال اګست 1891 کښې حواله کړے وؤ. خط ئې نسخي دے. کاغذ ئې پېړ او انګرېزے دے. چې واټر مارک په کښې په دې نوم دے. THSAUNERS & CO 1850.

صفحې ئې پوره دوه سوه دوه ويشت مخونه دي. د غزل او نظم اخري شعر ئې په سره سياهۍ ليکلي شوي دي او نور ديوان په تور قلم ليکل شوے دے. کاڼتې ئې سره او مضبوطه ده. مېجر راورټي د خپل ليک نه د دستخط سره دريم رجمنټ بمبۍ اسسټنټ کمشنر ليکلي دي.

کاتب خپلې باره کښې داسې ليکي.

"تمت تمام شد کتاب ديوان عبدالرحمان افغاني پتاريخ هشتم ماه صفر المعظم ۱۲۷۱هـ دستخط نيازالدين سراج الدين ملتاني"

A page from the manuscript of Diwan-i-Rahman Or 4493



9. **ديوان عبدالرحمان** : – Pashto MS 14 (The John Rylands Research Institute and Library, The University of Manchester)[23]

د مکنزي د کټلاګ مطابق دا نسخه په 86 نمبر ده او د جان رائ لېنډ مانچسټر لائبرېرۍ باندې دا نسخه په MS14 باندې موجوده ده ـ ددې نسخې کاتبې د ځرمنې ښۀ مضبوطه جوړه ده ـ خو املا ئې سخته او شکسته ده ـ کاغذ ئې زوړ هندوستانے ښکاري ـ د رحمان بابا تخلص په کښې سره سیاهۍ سره لیکل شوے دے ـ او نوره نسخه په تور قلم لیکل شوې ده ـ د کاتب د نوم او درک په کښې ښکاره پته نۀ لګي ـ البته د پخوانو لیکوالانو د ګوتې مهر پرې لګېدلے دے ـ چې ډېر واضحه نۀ دي ـ البته په دغه مهر کښې ''الدین'' لفظ واضح لیدے شي خو د کتاب په شروع کښې یو غزل لیکلے شوے دے چې لیکوال په مقطع کښې انعام نوم راوړي ـ نو اندازه داسې کېږي چې د کاتب نوم انعام الدین کېدے شي ـ

د دیوان په ړومبي مخ د فېرنګي نوم ترنر لیکلے شوے دے ـ او ورسره تاریخ څۀ دا رنګ لیکلے شوے دے ـ .Peshawar February, 27th 1850 داسې معلومېږي چې ترنر صېب دا نسخه په ۱۸۵۰ء کښې اوړلې وي ـ دفترونه دوه لري او مخونه پوره دوه سوه شپږ شپېتۀ لري ـ





ACKNOWLEDGEMENT

I extend our sincere gratitude to the dedicated staff members of the British Library, London and The John Rylands Library, Manchester, United Kingdom, for their invaluable assistance, cooperation, and kind consideration in facilitating access to the Pashto manuscripts, particularly the esteemed Diwan-i-Rahman. Their expertise, support, and commitment to preserving cultural heritage have greatly contributed to the promotion and dissemination of Pashto literature and enriching scholarly inquiry. We deeply appreciate their efforts in ensuring that these precious manuscripts remain accessible for research, study, and appreciation by scholars, enthusiasts, and the broader public.

a. Ursula Sims-Williams Lead Curator, Persian, British Library London.
b. Dr Zsófia Buda, Curator of Global MSS, The John Rylands Research Institute and Library, The University of Manchester.
c. Nicole McNeill, Reader Services Assistant, The John Rylands Research Institute and Library.

## حوالې


1. Catalogue of the Hindi, Panjabi, Sindhi and Pushtu Printed Books in the Library of the British Museum by J. F. Blumhardt, Teacher of Bengali at the University of Oxford, and of Hindustani, Hindi and Bengali for the Imperial Institute, London 1893.
2. Catalogue of the Library of the India Office. Vol. II-Part III. Hindi, Panjabi, Pushtu, and Sindhi Books. By J. F. Blumhardt, M.A, Professor of Hindustani, and Lecturer on Hindi and Bengali at University College, London; and Teacher of Bengali at the University of Oxford, 1902.
3. J. F. Blumhardt. Catalogue of Bengali Printed Books in the Library of the British Museum. London: Longmans & Co., 1886
4. J. F. Blumhardt. Catalogue of Hindustani Printed Books in the Library of the British Museum. London: Longmans & Co., 1889.
5. Catalogue of the Hindi, Panjabi, Sindhi and Pushtu Printed Books in the Library of the British Museum by J. F. Blumhardt, Teacher of Bengali at the University of Oxford, and of Hindustani, Hindi and Bengali for the Imperial Institute, London 1893.
6. Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues Abdul Rahman Habibzui
7. Ibid
8. Ibid
9. شاهسوار ، سنګر وال نیازي ، د برټش په کتابتون کښې د پښتو قلمي نسخو پېژندګلو، افغان ادبي جرګه لندن ، 2011
10. Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues Abdul Rahman Habibzui
11. Catalogue of the Marathi, Gujarati, Bengali, Assamese, Oriya, Pushtu, and Sindhi Manuscripts in the Library of the British Museum, by J. F. Blumhardt, M.A, 1905.
12. J. F. Blumhardt & D.N. Mackenzie, Catalogues of Pashto Manuscripts in the libraries of the British Isles, London-1965.
13. Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues Abdul Rahman Habibzui
14. Ibid
15. خلیل ، محمد جاوېد ، ډاکټر ، پښتو او مستشرقین ، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار، ۲۰۱۱ء
16. همدغه اثر
17. همدغه اثر
18. همدغه اثر
19. همدغه اثر
20. همدغه اثر

21. همدغه اثر
22. همدغه اثر
23. همدغه اثر

## Refrences


1. Catalogue of the Hindi, Panjabi, Sindhi and Pushtu Printed Books in the Library of the British Museum by J. F. Blumhardt, Teacher of Bengali at the University of Oxford, and of Hindustani, Hindi and Bengali for the Imperial Institute, London 1893.
2. Catalogue of the Library of the India Office. Vol. II-Part III. Hindi, Panjabi, Pushtu, and Sindhi Books. By J. F. Blumhardt, M.A, Professor of Hindustani, and Lecturer on Hindi and Bengali at University College, London; and Teacher of Bengali at the University of Oxford, 1902.
3. J. F. Blumhardt. Catalogue of Bengali Printed Books in the Library of the British Museum. London: Longmans & Co., 1886
4. J. F. Blumhardt. Catalogue of Hindustani Printed Books in the Library of the British Museum. London: Longmans & Co., 1889.
5. Catalogue of the Hindi, Panjabi, Sindhi and Pushtu Printed Books in the Library of the British Museum by J. F. Blumhardt, Teacher of Bengali at the University of Oxford, and of Hindustani, Hindi and Bengali for the Imperial Institute, London 1893.
6. Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues Abdul Rahman Habibzui
7. Ibid
8. Ibid
9. Sangarwal Shasawar Niazai, Da Britania Pa Kitabtononu ki da Paktho Qalami Nuskhu Paizandana, Afghan Adabi Jirga, London, 2011.
10. Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues Abdul Rahman Habibzui
11. Catalogue of the Marathi, Gujarati, Bengali, Assamese, Oriya, Pushtu, and Sindhi Manuscripts in the Library of the British Museum, by J. F. Blumhardt, M.A, 1905.
12. J. F. Blumhardt & D.N. Mackenzie, Catalogues of Pashto Manuscripts in the libraries of the British Isles, London-1965.
13. Critical Analysis of Pashto Manuscript Catalogues Abdul Rahman Habibzui
14. Ibid
15. Khalil, Muhammad Javed Dr. Pukhto Mustashriqen Jadon Printing press Peshawar, 2011
16. Ibid
17. Ibid
18. Ibid
19. Ibid
20. Ibid
21. Ibid
22. Ibid
23. Ibid